**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۵/۰۹/۲۶

# د یهودو عادلانه جګړې

(یو سل او دویمه برخه)



(کېنېډي وروڼه: ښي لور ته ولسمشر جان ایف. کېنېډي، چپ خوا، لوی څارنوال رابرټ کېنېډي او په منځ کې تد کېنېډي)

## د ولسمشر جان ایف. کېنېډي د ترور عوامل:

د ولسمشر جان ایف. کېنېډي د وژلو عوامل ډېر دي خو پنځه بنسټیز عوامل یې اړین دي چې باید رڼا پرې واچول شي:
د ولسمشر د ترور لومړی عامل د اسراییلو د اټومي وسلو پر وړاندې د هغه د سخت دریځ غوره کول او د فلسطینیانو د حقه حقونو پلویتوب ؤ.
۲ــ ولسمشر د سي.آی.اې پر شرارتونو او خپلسریو پر وړاندې مخالف او په قهر ؤ او د سي.آی.اې د اصلاح او چاڼ هڅې یې وکړې.
۳ــ ولسمشر کېنېډي په ټوله نړی، په ځانګړي توګه له شوروي اتحاد او نورو مخالفو هېوادونو سره په سوله کې ژوند کول غوښتل خو د امریکا استخباراتي او پوځي ځواکونو د تاؤتریخوالي او جګړو پلوي کوله.
۴ــ ولسمشر په امریکا کې د جنایتکارو مافیایي باندنو، په ځانګړي توګه یهودي مافیا د له منځه وړلو په اړه سخت دریځ نیولی ؤ.
۵ــ کېنېډي غوښتل د امریکا په بانکي سیستم کې هم بدلونونو او اصلاح راولي.
پورته پنځه عوامل په لاندې توګه څېړل کیږي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ په تېرو پانو کې مو ولوستل چې **ولسمشر د اسراییلو د اتومي وسلو د جوړولو پر وړاندې ټینګ ولاړ ؤ.**[1] که ولسمشر کېنېډي د امریکا د ولسمشرۍ دویم ځل ټاکنو کې بریالی شوی وای، شوني وه چې اسراییلي صهیونستان به له یو سخت حالت سره مخ وای، یا به له اتومي پروګرامونو لاس په سر کېدلی او یا به په ډېر کمزوري حالت او په ګوښه کې پاتې شوي وو، د امریکایانو مرستې به پرې درول شوې وای او په پای کې به د اسراییلو دولت له منځه تللی ؤ.

سربېره پر دې کېنېډي د اسراییلو د اتومي وسلو مخالف او **د فلسطین د مسئلې په اړه د ملګرو ملتونو د عادلانه حل لارې پلوي هم کوله.**

که له یوې خوا اسراییلي صهیونستانو له ولسمشر کېنېډي څخه د خپل اتومي پروګرام د مخنیوي له کبله کرکه کوله او له بلې خوا اسراییل پر ولسمشر باندې د هغه د پلار او نیکه له زماني څخه بدګومانه وو، هغه مهال چې کېنېډي د امریکا د دیموکرات ګوند لهخوا د ولسمشرۍ لپاره نوماند شو، د اسراییلو د (هروت) ورځپانه چې په بنې اړخي، ملتپال ګوند هروت پورې یې اړه لرله او مشري یې مناخیم بیګین کوله (چې د اسراییلو د رژیم له جوړولو وړاندې د صهیونستي تروریستي ډلې (ایرګون) مشر ؤ او وروسته د اسراییلو لومړی وزیر وټاکل شو.) د کېنېډي په هکله ولیکل:**«د کېنېډي پلار هېڅکله یهودان نه خوښول، هغه د یهودو ضد کس ؤ او له صهیونستانو سره یې هیڅ اړیکې نه درلودلې.»**

نومړې ورځپانه پوښتنه کوې وایي چې **«آیا پلار به خپل زوی، جان ایف. کېنېډي ته د دغو زهرو یو څاڅکی نه وي لېږدولی؟»**[2]

له ولسمشر کېنېډي څخه د اسراییلو د کرکې بل عامل دا ؤ چې کېنېډي د خپلې ځوانۍ پر مهال له نازي جرمني سره ډېره خواخوږي درلوده او **د خپلې ولسمشرۍ پر مهال یې د جرمنی د برلین په ښار کې په یوه وینا کې ځان جرمنی بللی ؤ.**[3]

**بله دا چې کېنېډي د ایرلند د عیسویانو د کاتولیک مذهب لاروی ؤ،** د عیسویانو د کاتولیک مذهب له یهودیت او اسراییلو څخه له آره کرکه لري چې د تاریخ په اوږدو کې عیسوي کاتولیکانو ډېر یهودان وژلي او ځپلي دي، **کیدای شي اسراییل له دې اړخه هم پر ولسمشر کېنېډي بدګومانه وي.**

د ولسمشر کېنېډي دا ډول ځانګړنو ته په کتو، د اسراییلو ترهګرو مشرانو پرېکړه وکړه چې په هر ډول کیږي باید کېنېډي له منځه یوړل شي.

**د اسراییلو د دیمونا لوړپوړي ساینس‌پوه مردخای وانونو (چې په ۱۹۸۶ز. کال کې له اسراییلو تېنتیدلی او په استرالیا کې له یهودیت څخه عیسویت ته اوښتی ؤ.) او د موساد دوه نورو پخوانیو مامورینو وویل چې بن ګوریون د کېنېډي د قتل حکم ورکړی ؤ.** د سي.آی.اې او ایف.بي.آی په مرسته کېنېډي ووژل شو او اسوالډ په دې تور ونیول شو چې بیا وروسته د ولسمشر کېنېډي په ترور کې د اسراییلو د ونډې د پټولو لپاره بېلابېلې تیورۍ پلې کړای شوې.[4]

د نړۍ ډېر پوهان، مفکران او ولسمشران په دې باور وو او دي چې د ولسمشر کېنېډي په وژلو کې د اسراییلي صهیونستي ترهګرو لاس ؤ، هغه له دې کبله چې کېنېډي د صهیونستانو د اتومي وسلو پر وړاندې نه ماتیدونکی دریځ خپل کړی ؤ.

په دې اړه د لیبیا پخواني مشر (معمر قذافي) د ۲۰۰۸ز. کال د جون میاشتې په یوه وینا کې (مخکې له دې چې د امریکا ولسمشریزو ټاکنو کې اوباما دموکرات کاندید شي) وویل:**«اوباما له دې وېرېږي چې هسې نه چې د جان ایف. کېنېډي په څېر د موساد لهخوا وژل شي نو ځکه د اسراییلو د اتومي وسلو په اړه څه نه وایي.»**

هغه په ۲۰۰۹ز. کال کې، د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې په ۶۴مه ناسته کې دا پوښتنه راپورته کړه چې **«موږ باید پوه شو چې ولې جان ایف. کېنېډي د یوه کس په لاس چې نوم یې اسوالډ ؤ، ووژل شو؟ او ولې اسوالډ بیا د یو یهودي-اسراییلي جک روبی لخوا ووژل شو؟»**

قذافي زیاته کړه **«د کېنېډي د ترور اصلي دلیل دا ؤ چې هغه غوښتل د اسراییلو د (دیمونا) اتومي تاسیسات وڅاري، ترڅو پوه شي اسراییل اتومي بم لري که نه؟»**[5]

---

[1]: د لیکنو ۹۸یمه برخه ولولئ.

[2]:https://www.tasnimnews.com/fa/news/1396/08/16/1567579/
https://jscenter.ir/slave-jews/israel/7766/

[3]: د لیکنو ۹۵یمه برخه ولولئ.

[4]:https://www.bbc.com/persian/articles/ckg3r9jp248o

[5]:https://www.tasnimnews.com/fa/news/1396/08/16/1567579/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

**پورته ځلور بنسټيز مسايل وو چې اسراييلي صهيونستانو ولسمشر کېنېډي خپل لومړی درجه دښمن باله چې له امله يې په دې کوښښ کې وو چې څرنګه ولسمشر له مخې لرې کړي.**

ـ په نړۍ کې د امريکا د بهرنيو استخباراتو سي.آی.اې د جنايتونو د مخنيوي په اړه ولسمشر غوڅ ګامونه پورته کړل، اړينه وه چې کېنېډي د سي.آی.اې اداره د هغو لېونيو ترهګرو له شتون څخه پاکه کړي چې غوښتل يې د خپلو شيطاني کړنو له امله درېيمه نړېواله، اتومي جګړه رامنځ ته کړي، د سي.آی.اې تر څنګ ولسمشر کېنېډي د امريکا په پوځي ځواکونو کې هم هغه شراچوونکی جنرلان وګوابل چې د سي.آی.اې په څېر يې د درېيمې نړېوالې جګړې پلوي کوله، له دا ډول کسانو څخه يو هم د امريکا د هوايي ځواکونو ستر درستيز، ستر جنرال **(کورټيس امرسون لمي)** ؤ چې د کېنېډي پر حکومت يې سختې نيوکې کولې، هغه يو ځانغوښتونکي او مغرور جنرال ؤ، نوموړي جنرال «په کال ۱۹۶۲ز. کې د کيوبا د توغنديو د بحران په جريان کې **له ولسمشر له جان ايف. کېنېډي او د امريکا له دفاع وزير (مکنامارا) سره په ټکر کې شو،** هغه غوښتنه کوله چې بايد اجازه ورکړل شي په کيوبا کې د شوروي لهخوا ځایپرځای شوي، د اتومي توغنديو سايټونه بمبار کړي. هغه د کېنېډي د سمندري کلابندۍ (چې کيوبا يې کلابنده کړي وه) مخالفت وکړ. جنرال لمي د بحران له پای وروسته هم وويل چې بايد پر کيوبا بريد وشي. ولسمشر کېنېډي د جنرال لمي غوښتنې رد کړې. وروسته شوروي ومنله خپل توغندي له کيوبا څخه وباسي. هغه وو چې د ولسمشر کېنېډي سمندري کلابندي بريالی او ښه پايله يې ورکړه.

جنرال لمي ولسمشر کېنېډي ته وويل چې پر کيوبا باندې د بريد نه کولو پرېکړه د مونيخ د تړون په څېر بده وه،[6] او دا زموږ په تاريخ کې تر ټولو ستره ناکامي وه.»[7]

جنرال لمي پنځه ويشت کاله وروسته بيا هم په هماغه د حماقت پر خره سپور ؤ، ويل يې چې «موږ کولای شول، نه يوازې توغندي له کيوبا څخه وباسو، بلکې هغه مهال موږ دا ځواک درلود چې کمونستان هم له کيوبا وشړو.»[8]

جنرال لمي په دې نه پوهيده چې د امريکا د بريد پر وړاندې به د شوروي اتحاد غبرګون څه وي؟

پوهان وايي: هغه څه چې نن ډېر خلک نه پوهېږي دا دي چې که متحده ايالاتو ريښتيا پر کيوبا بريد کړی وای، د شوروي اتحاد واکمن نيکيتا خروشچف به په غبرګون کې لوېديځ برلين نيولی وای... شوني وه چې اتومي جګړه هم پيل شوې وای.

داسې هم ويل کيږي چې **جنرال لمي له ولسمشر کېنېډي غوښتنه کړې وه چې لومړنی اتومي بريد دې پر شوروي اتحاد ترسره کړي چې متحده ايالات به يوازې ۴۰ ميليونه تلفات ولري خو شوروي به ۱۰۰ ميليونه تلفات ورکړي چې په دې توګه به، د جنرال لمي په وينا، امريکا بريالی شي.** کېنېډي په حق او له قهره ورسره اړيکه پرې کړه او بيا يې خپل مرستيال ته وويل: **آيا دوی موږ ته د بشر په نظر ګوري؟**

کېنېډي چې د سولې کلک پلوی ؤ او له شوروي اتحاد او کيوبا سره د ښېښتيني پخلاينې غوښتونکی ؤ، د ۱۹۶۳ز. کال د مۍ په مياشت کې د ده له ترور څخه پنځه مياشتې وړاندې ويلي وو:**«... او په پای کې، تر ټولو ګډ او بنسټيز تړاو زموږ تر منځ دا دی چې ټول په دې کوچنۍ سياره کې اوسېږو. ټول يو شان ساه (سيلوي) اخلو، ټول د خپلو ماشومانو راتلونکی ارزښتمن ګڼو او ټول مره کيدونکي يو.»**

د ولسمشر کېنېډي دا ډول سولهپيير او انساني کړنلاره د امريکا د پوځ او استخباراتو ځينو جنرلانو او چارواکو لهخوا کمونستي دريځ وبلل شو، هغه يې کمونست وباله او امريکا ته يې د خاين په تور تورن کړ. په داسې حال کې چې دوی

---

[6]: د مونيخ تړون چې د دويمې نړيوالې جګړې د مخنيوي په موخه، د انګريزان، فرانسي، ايټاليا او جرمني هېوادونو لهخوا د ۱۹۳۸ز. کال په سپټمبر کې لاسليک شو او د چکسلواکيا هېواد جرمن مېشتې سيمې (سودټ) يې نازي جرمني ته ورکړې وې.

[7]: Freedman, Lawrence (2000). *Kennedy's Wars Berlin, Cuba, Laos, and Vietnam*. Oxford University Press. p. 186.(د نورو منابعو په استناد)

[8]: Kohn, R. H.; Harahan, J. P. (1988). "U.S. Strategic Air Power, 1948–1962: Excerpts from an Interview with Generals Curtis E. LeMay, Leon W. Johnson, David A. Burchinal, and Jack J. Catton". *International Security*. 12 (4): 78–95. (د ځينو ليکنو په استناد)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

پەخپله د بشريت پر وړاندې په لوی خيانت لګيا وو او د ولسمشر د سولەييز دريځ پر وړاندې د هغه د وژلو په هڅه کې شول.

ــ ولسمشر کېنېډي دننه په خپل هېواد کې د **مافيايي ډلو ټپلو** پر وړاندې هم سخت ګامونه پورته کړي وو چې د دغو جنايتکوونکو د ځپلو او له منځه وړلو لپاره يې خپل وړور رابرټ ايف. کېنېډي د امريکا د لوی څارنوال په توګه ټاکلی ؤ.

د مافيا کلمه د ايټاليا، د سيسيلي سيمې په ژبه کې د (مېړاني، زړور، مغرور او چالاک) په مانا ژباړل کېږي خو د مافيا کړنې د دوی له تعريف سره توپير لري، داسې چې امريکايي مافيا د جنايي باندونو يوه ټولنه ده چې د ايټالوي- امريکايانو څخه جوړه شوې ده او په متحده ايالاتو کې فعاليت کوي، د سيسيلي مافيا ريښه لري، دغه ډلې په منظم ډول په جنايي کړنو، **لکه وژنې، د نشەيي توکو قاچاق، ناقانونه قمار، باج اخيستل، تېرايستل او د پيسو په مينځلو کې لاس لري.**
په امريکا کې اصلي مافيايي ډلې (کورنۍ) بلل کېږي چې په ځانګړو سيمو کې واک لري او خپل ځانونه (وياړلي خلک) بولي. اوس مهال په امريکا کې يهودي مافيا چې (کوشر) يې بولي ډېره فعاله ده. د ۱۹مې زېږديزې پېړۍ په اوږدو کې په امريکا کې يهودي جنايتکار باندونه (ګانګستر) د پخوانيو يهودي باندونو په څېر منظم شوي جرمونه لکه: وژنې، له خيالي سوداګرۍ څخه ناقانونه ګټې، د منع شويو شرابو ناقانونه پلورل، نشەيي توکي او فحشا ترسره کول. امريکايي مافيا په ځانګړي توګه يهودي مافيا د امريکا له استخباراتو سي.آي،اې سره په هر ډول جنايتونو کې برخه اخلي. (جک روبي) چې د ولسمشر کېنېډي قاتل (لي هاروي اسوالډ) يې ووژه، د يهودي مافيا غړی ؤ. د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰زېږديزې په لسيزه کې يهودي مافيا د کوکاين او هيروين قاچاق او د (لاس ويګاس) ښار قمارخانو په پراختيا کې مهم رول درلود.

وړاندې يادونه وشوه چې ولسمشر کېنېډي د دغو مافيايي باندونو د ځپلو په موخه خپل وړور د لوی څارنوال په توګه وټاکه خو ولسمشر کېنېډي او وړور يې د دې پر ځای چې نوموړي مافيايي ډلې کمزوري او يا يې له منځه يوسي، **له بده مرغه برعکس، دواړو وروڼو په دې لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکړ.**

د ولسمشر کېنېډي له وژلو وروسته د کېنېډي کورنۍ، په ځانګړي ډول لوی څارنوال رابرټ کېنېډي، د مافيا پر وړاندې سخت ځېونکي ګامونه پورته کړل.
لوی څارنوال رابرټ ايف. کېنېډي، د خپل وژل شوي وړور جان ايف. کېنېډي د پلټنو رسمي مالومات ونه منل. هغه ډېرجدي شک درلود چې مافيا په دې پېښه کې لاس لري. د همدې لپاره، هغه يو تر ټولو باوري کس، (والټر شريډن) د دالاس ښار ته (چې ولسمشر کېنېډي په کې ترور شوی ؤ) واستاوه څو په پټه توګه د نورو پلټونکو ډلو تر څنګ موازي څېړنې پيل کړي. دغه نارسمي څېړنې د هغو دوسيو يوه برخه وه چې د څو لسيزو راپدېخوا د خلکو له سترګو پټې شوې وې او اوس يې يوازې يوه کوچنۍ برخه يې د عامو خلکو لپاره د لاسرسي وړ ده.

د ۱۹۶۴تر۱۹۶۸ز. کلونو تر منځ، لوی څارنوال رابرټ د مافيا پر وړاندې د تاريخ تر ټولو لويې جنايي دوسيې پرانيستلې. د دې فشار په ترڅ کې د مافيا څو مهم مشران بنديان شول لکه: په نيويارک کې د (بونانو) کورنۍ څخه **(کارمين ګالانته)** چې وروسته د نوموړي کورنۍ مشر شو[9]؛ د شيکاګول د مافيا مشر، **(سامرتي سام جيانکانا) ؛ جوزف والاچي** او نور وو.
والاچي د ۱۹۶۳ز. کال په اکتوبر کې د امريکا د سنا د څېړنې کمېټې په غونډو کې شاهدي ورکړه او د لومړي ځل لپاره د مافيايي ډلو پټ رازونه يې ښکاره کړل او د ايټالوي ـ امريکايي مافيا شتون اقرار يې وکړ. والاچي د مافيا لومړنی غړی ؤ چې په عامه توګه يې شاهدي ورکړه او د دې سازمان شتون يې رسوا کړ. والاچي د مافيا تاريخ، کړنو او دودونو په اړه ډېر مالومات وړاندې کړل او د څو ناحل شوو وژنو په موندنو کې يې مرسته وکړه، د مافيا ډلو د ډېر

[9]: https://web.archive.org/web/20160417211432/https:/www.state.nj.us/sci/pdf/ocreport.pf


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

شمېر غړو او سترو جنايي کورنيو نومونه يې وښودل. د والاچي دغه محاکمه چې د ټلويزيون له لارې خپرېدله، نړۍوال د امريکا له منظمو جنايتکارو باندونو څخه خبر شول.

د مافيا بل مشر سامرتي سام جيانکانا په ۱۹۶۵ز. کال کې محکمې ته حاضر کړای شو او له هغې وروسته يې پر وړاندې ډېرې دوسيې پرانستل شوې.

ځينو خبريالانو ويلي وو چې جيانکانا او د هغه د شيکاګو جنايتکارې ډلې (سنډيکا) له جان ايف. کېنېډي سره د ۱۹۶۰ز. کال په ولسمشريزو ټاکنو کې خپل رول لوبولی ؤ.[10]

د مافيا پر وړاندې د ولسمشر کېنېډي او د ولسمشر ورور لوی څارنوال رابرټ درېځونه د مافيا مشران سخت په غوسه کړل ځکه چې دوی د ۱۹۶۰ز. کال په ټاکنو کې له جان ايف. کېنېډي پلوي کړې وه خو «جيانکانا وروسته د دې له امله پښېمان شو چې لوی څارنوال رابرت ايف. کېنېډي د مافيا د منظمو جنايي ډلو د ځپلو لپاره د پام وړ هڅې پيل کړې وې.»[11]

د ولسمشر کېنېډي له ترور وروسته د هغه ورور رابرټ کېنېډي د امريکا د ۱۹۶۸ز. کال په ټاکنو کې د ولسمشرۍ لپاره نوماند ؤ، رابرټ د ټاکنو پر مهال ژمنه کړې وه **چې که ولسمشر شي، د مافيا پر خلاف به د لا سختو کړنو لړۍ جاري وساتي.**

رابرټ کېنېډي، د ۱۹۶۸ز. کال د جون په ۵مه نېټه، د ټاکنيزو مبارزو پر مهال، لږ وروسته له هغې چې په کاليفورنيا ايالت کې يې برى تر لاسه کړ، په لاس انجلس ښار کې د (امباسادور) هوټل په پخلنځي کې د ۲۴ کلن فلسطينيالاصله د اردن تبعه، **(سرحان سرحان) لهخوا په ډزو وويشتل شو او لکه د خپل مشر ورور، جان ايف. کېنېډي غوندي ترور شو.**

لوی څارنوال رابرټ د سرحان لهخوا (چې يو عرب عيسوی ؤ) ترور شو خو په حقيقت کې د پردې تر شا د مافيا، سي.آی.اې او سياسي ډلو ټپلو لاس لرل ډېر مطرح شوی دی. په دې اړه د لوی څارنوال زوی **(رابرټ ايف. کېنېډي جونيور)** چې د امريکا په سياست کې يوه پېژندل شوې څېره ده او د ټرمپ په حکومت کې يې هم حضور درلود، پهخپلو جنجالي څرګندونه کې وويل:**«ډېر شواهد شته چې ښيي د سي، آی، اې اداري په خپله د ترور او همدارنګه د هغې په پټولو کې لاس درلود.»** دا خبره د ډېرو امريکايانو لپاره هغه څه وو چې کلونه يې په زړه کې تېريدله خو اوس يې د يوې مهمې او له چاراوکو سره نږدې څېرې له خولې واورېدل.[12]

ـ پاتې دې نه وي چې ولسمشر کېنېډي غوښتل **د امريکا په بانکي سيستم کې د پام وړ بدلونونه راولي چې ډېرى زيانونه يې امريکايي يهودانو ته وراوښتل،** هغه د تيلو د صنعت د زېرمو د کملو اړوند د مالياتي معافيتونه پای ته رسول چې دا ډول معافيتونه د امريکا د تيلو تر ټولو لويو شرکتونو او لويو بانکونو د بېساري ګټې اصلي لامل وو. هغه ګواښ کړی ؤ چې د امريکا د فولادو د بيو د لوړولو مخه به نيسي... .

کېنېډي د دوه ميلياردو ډالرو په ارزښت د سپينو بانکنوټونو (Silver Certificates) د چاپ امر ورکړی ؤ چې د فدرال د ذخيرې د پيسو د توليد پر انحصار يې مخامخ اغېز درلود.

دا وو د ولسمشر کېنېډي او د هغه د ورور رابرت کېنېډي د ترور په هکله پنځه بنسټيز عوامل چې په اړه يې تر يو ځايه مالومات وړاندې شول.

---

[10]: ګرينبرګ، ديويد (۱۶ اکتبر ۲۰۰۰). «آيا نيکسون مورد سرقت قرار ګرفت؟» . اسليت . بايګانیشده از نسخه اصلی در ۸ سپتامبر ۲۰۱۱. بازيابیشده در ۱۷ مارس ۲۰۲۰ .

[11]: https://www.cbsnews.com/news/tina-sinatra-mob-ties-aided-jfk/

[12]:https://www.1pezeshk.com/archives/2025/03/the-one-hidden-bombshell-in-trumps-declassified-documents.html



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ



لوی څارنوال رابرټ اېف. کېنېډي څو ساعته وړاندې له ووژل کېدو څخه، د کاليفرنيا په لومړنيو ټاکنو کې بريا ترلاسه کړې وه.

نېټه: ۱۴۰۴/۶/۳۰ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلی محمد انور اڅڼ نوري ليکنې په دی لينک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ